دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په منځ کې پریکړه او حکم کاوو، نو باید په عدل او انصاف سره يې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکې او ښه لیدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت شپږم کال، لومړی ګڼه، پرله پسې ۲۴۵ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د وری ۵ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الاول ۲۲ مه د۲۰۱۴ م د مارچ ۲۵ مه

حمایت پرشکوه مردم ولایت بدخشان از تیم اصلاحات و همگرایی

بدخشان، پژواک:
داکترعبدالله در سفر به بدخشان، برنامه های انتخاباتی اش را به مردم شرح داد و به حمایت از وی در جوزجان و نیمروز نیز گردهمایی هایی صورت گرفت.
این نامزد ریاست جمهوری، در گردهمایی هزاران تن در استدیوم ورزشی فیض آباد مرکز ولایت بدخشان وعده نمود که بندبرق را اعمار نموده و بدخشان را به ولایت ترانزیتی کشور مسمی خواهد ساخت.
وی گفت که بدخشان، یکی از ولایاتی است که مردم آن با نبود برق مواجه اند؛ درصورت پیروزی تیم اصلاحات وهمگرایی، بندبرق شورابک را اعمار میکند که با اعمار آن، مشکلات مردم بدخشان از ناحیهٔ برق رفع میشود.
بندبرق شورابک، ظرفیت پنج میگاوات برق را داشته و در چهارکیلومتری فیض آباد واقع است و قرارداد آن، از پنج سال بدینسو به هزینه ۴۵ میلیون یورو کمک بانک انکشافی آلمان عقد شده است که این برق، برای شهروندان فیض آباد کفایت میکند.
داکتر عبدالله گفت که درصورت پیروزشدن، کارنیمه تمام شاهراه تجارتی ابریشم را نیز تکمیل و شهرفیض آباد را به عنوان... (ص، ۳)

ولسي جرګې پر سرینا د برید په اړه له امنیتي چارواکو د توضیحاتو غوښتنه وکړه

کابل، رسنۍ:
ولسي جرګې پریکړه وکړه، چې امنیتي چارواکي خپلې غونډې ته ور وبولي ترڅو ترې وپوښتي چې له امنیتي تدابیرو سره سره په کابل سرینا هوټل ولې حمله وشوه.
د نوي کال په شپه وسله والو کسانو په کابل سرینا هوټل باندې حمله وکړه، په دې حمله کې نهه تنه ملکیان چې څلور يې بهرنیان ووژل شول.
د افغانستان ملي امنیت شورا او بهرنیو چارو وزارت ویل، چې په دې هوټل باندې په حمله کې د سیمې د استخباراتو لاس و.
د افغانستان ولسي جرګې په ... (ص، ۴)

مصري محکمې ۵۲۹ اخوانیان په اعدام محکوم کړي

مصر، رسنۍ:
د مصر المنیا جنایي جرمونو محکمې د اخوان المسلمین ګوند د ۵۲۹ غړو دوسيې مفتي ته حواله کړې دي.
شپاړس تورن کسان د المنیا د پولیسو پر یوه مرکز د برید قضیه کې سپين خېژول شوي دي.
مفتي ته د تورنو د دوسیو استول په مصري قانون کې د اعدام په مانا دي.
پر دغو کسانو د یوه افسر د وژلو او د پولیسو د وسلو ترلاسه کولو تورونه لګېدلي.
همداشان دوی تورن شوي، چې ګڼې عامه او خاص ملکیتونه يې سېځلي دي.
د ویلو ده چې... (۴ مخ)

جشن جهانی نوروز در پغمان نه، در ارگ کابل راه اندازی می شود

کابل، رسانه ها:
جشن جهانی نوروز سال ۱۳۹۳ در پغمان نه، در ارگ ریاست جمهوری افغانستان راه اندازی می شود.
کمیسیون برگزاری این جشن ظاهراً اعلام کرده است که امور بازسازی در این محل به پایه اکمال نرسیده است.
اما وزارت امور شهر سازی افغانستان می گوید که پغمان آماده یی پذیرایی اشتراک کننده های این جشن است.
محمد امین قانع مشاور این وزارت می گوید که تمام کار های بازسازی در تپه پغمان تکمیل گردیده اند: ...

د تسلیت پیغام

حزب اسلامي افغانستان په ۱۳۹۲ کال په وروستۍ ورځ د جمعې په شپه پر سرینا هوټل هغه ترهګریزه برید په کلکو ټکو غندي، چې د هېواد تکړه ژورنالست سردار محمد، د هغه میرمنه او دوه تنکي ماشومان يې پکې په شهادت ورسول شول.
حزب اسلامي افغانستان د شهیدانو له کورنۍ سره په دې دردوونکی غم کې برابر شریک دی. له لوی خدای څخه شهیدانو ته د فردوس جنت، او کورنۍ ته يې د جمیل صبر غوښتنه کوي.

تقلبات مهندسی شده هرگز پذیرفتنی نخواهد بود

فدامحمد فایض

«ارگ نشینان در دوازده سال گذشته یا نتوانستند و یا اینکه نخواستند شخصی را برای ریاست جمهوری دور سوم انتخاباتی در نظر بگیرند که واقعاً بتواند با توجه به تجارب دوازده سال گذشته کشتی طوفان زدهٔ ملت را با سلامت از دریای پرتلاطم حوادث، مداخلات خارجی و نابسامانیهای داخلی عبور دهد، بناءً بمصداق اصطلاح سیلاب برداشته به هر خس و خاشاک دست میناندازد از ناچاری به تیمی امید بست که با احترام به شخصیت شان از ناحیهٔ وجاهت ملی در ضعیفترین نقطه قرار دارد. عده یی از دوستانی هم که فکر کردند این تیم از حمایت ارگ عبدالرحمن خانی بهره‌مند است، راه خود را و همفکران و همقطاران خود را گذاشته دست بدامن همین تیم زدند؛ ولی وای از روزی که این تیم بازنده اعلان شود که باور دارم در صورت اجرای انتخابات شفاف چنین خواهد شد.» (ص، ۲)

امرخیل:

په کمپاینونو کې د دولتي چارواکو له ګډون اندېښمن یو

د ټاکنو خپلواک کمیسیون په دې باور دی، د رایې ورکونې ټول مرکزونه چې امنیت يې ټینګ نه شي، څارونکي شتون ونه لري او خلک د ناامنیو له امله ورته لاسرسی ونه لري، نو په دغو ځایونو کې به ټاکنې تر سره نه شي.

کابل، رسنۍ:
د ټاکنو خپلواک کمیسیون په ټاکنیزو کمپاینونو کې د دولتي چارواکو له ګډون او ناامنۍ اندېښنه څرګنده کړې او ویلي يې دي، چې تر دې مهاله ټاکنیز توکي ناامنو سیمو ته نه دي لېږدول شوي او په دغو سیمو کې به د رایې ورکونې مرکزونه هم تړلي وي.
د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشاء مشر ضیاءالحق امرخېل ویل، چې د مهالوېش له مخې يې د ټاکنو د تر سره کېدو لپاره اړین تدابیر نیولي او ټولو ولایتونو د ټاکنو لومړي توکي لېږدول شوي دي.
خو نوموړي، ناامني د ټاکنو پر وړاندې لوی خنډ وباله او زیاته يې کړه، چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون په دې باور دی، ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ولس شفاف انتخابات غواړي

د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د هر چا په خوله دا خبره عامه ده چې ټاکنې رڼې او شفافې نه ترسره کېږي. حکومت له لومړۍ ورځې نه پتیبلی ده چې د خپلې خوښې نوماند به د اقتدار پر ګدي کښېنوي، دا یوازې اندېښنې نه؛ بلکې هغه واقعیتونه دي چې خلکو پخپلو غړېدلیو سترګو لیدلې او درک کړې دي.

په کندهار کې د یو مشخص کاندید غونډې ته چې حکومتي چارواکو ځومره وګړي په زوره د حکومتي وسایطو او امکاناتو له لارې راوستي او هلته ګډون کوونکو ته اړ کړي دي، د کندهار د وګړو څرګندونې د همدې ادعا لپاره ښه سند دی. همداراز په پکتیا او نورو ولایتونو کې چې حکومتي چارواکو د همدې نوماند د کمپاین لپاره څومره مصارف او وسایل په کار اچولي رسنۍ ترینه ډکې دي، ددغه مشخص نوماند په کمپاین کې د حکومت ملګرتیا او ملاتړ دومره رسوا شوی چې که حکومت څومره ددې د پټولو لپاره هلې ځلې وکړي د پټولو توان یې نه لري، د حکومت ددغې بربنډې لاسوهنې د افغانستان په ولس کې د قهر او غوسې توپان راپارولی او هر څوک همدا یوه خبره کوي چې چارواکي دی د ولس له احساساتو او جذباتو سره لوبې نه کوي او څومره ژر چې کیدلی شي له خپلې دغې غیر قانوني کړنې نه لاس په سر شي تر څو ملت له درغلۍ او فساد پرته په آرامه فضا کې د رأیو صندوقونو ته لاړ شي او د خپلې خوښې کاندید ته رأیه ورکړي.

په افغانستان کې د دیموکراسي شعار او دیموکراتیکو ټاکنو ترانې پخپله کرزي او دهغه د ټیم له خوا ویل شوي او ددې ویاړ هم خپلو ځانو ته منسوبوي چې په افغانستان کې د دیموکراسي نظام بنسټ همدوی ایښې دی، دا چې دوی له لومړۍ ورځې نه له دیموکراسي نه ناوړه ګټه اخستې او تل د ملت د ګمراه کولو کوښښ یې کړی دی د افغانستان مسلمان ولس ته د منلو نه دی، که چېرته د کرزي حکومت واقعاً په ولسواکۍ یقین لري او غواړي چې ولس دچا له ویرې او فشار پرته په آزاده فضا کې د هېواد ولسمشر پخپله وټاکي؛ نو بیا دی د میچ د ریفري په څېر نه یوازې دا چې بې پرې واوسي؛ بلکې د هېواد تر ټولو لوی مسؤولیت لرونکی زعیم په توګه دی خپلې سترګې څلور کړي او زیرک واوسي، کلک نظارت دې وکړي او هېڅ یو چارواکي ته دی موقع نه ورکوي چې له بیت المال نه د کوم ځانګړي کاندید په ګټه کار واخلي. پخپله ولسمشر کرزي ته له بل عام ولسي وګړي نه دا حقیقت ښه څرګند دی چې افغانستان په اوسنیو حالاتو کې له ستر بحران سره لاس او ګریوان دی. پدې وخت کې لږ غوندې اشتباه هم افغانستان له لوی تاوان سره مخامخ او کوم نسبي استحکام چې تر سترګو کېږي دا هم په یوه جټکه له لاسه وتلی شي.

د افغانستان د پیاوړتیا او استحکام قوي بنسټ د افغانستان د ولس یووالې او دهغوی پر رایو جوړ شوی حکومت دی، که خدای مه کړه دغه دواړه پیاوړي بنیادي ډبرې ترینه لرې کړی شي؛ نو د نړۍ یو ځواک هم د قابو کولو توان نه لري او هغه څه چې په تېرو دوو لسو کلونو کې د زرګونو ځوانانو د قربانیو په برکت ترلاسه شوي هغه به ټول تالا ترغۍ شي، فلهذا ولسمشر ته پکار دي چې دغو ټولو خطرونو او حساسیتونو په نظر کې نیولو سره د ټولټاکنو په دې پړاو کې د افغانستان د کړیدلي ولس له جذباتو او احساساتو سره د لوبې کولو څخه په کلکه ډډه وکړي او داسې حالت دې نه پیدا کوي چې ولس د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره توپاني مظاهرو ته اړشي او افغانستان نه یواځې دا چې یوځل بیا د کورنیو جګړو په ډګر واوړي؛ بلکې د افغانستان دښمنانو ته به هم دا طلایي فرصت په لاس ورشي چې په افغانستان کې د تیر په څېر په خلاص مټ لاسوهنې وکړي او خپلو هغو شومو موخو ته ورسېږي چې د مودو راهیسې یې پلان کړي او د ترسره کېدو په لټه کې دي.

✍ فدامحمد فایض

تقلبات مهندسی شده هرگز پذیرفتنی نخواهد بود

برای تدویر انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی درست یکنیم هفته باقی مانده است، از جملهٔ یازده نامزد ریاست جمهوری دو نفر آن در اثر فشارها یکی به نفع کاندید دیگری از نامزدی دست برداشت و دیگر بدون آنکه به نفع دیگری باشد از نامزدی استعفا داد. در مدتی که برای کمپاین اختصاص داده شده است، نامزدان کمپاین خود را کردند و درین مدت معلوم شد که نامزدان برتر و قویتر کدام اند، متوسط کدام اند و ضعیف کدام اند.

ارگ نشینان در دوازده سال گذشته یا نتوانستند و یا اینکه نخواستند شخصی را برای ریاست جمهوری دور سوم انتخاباتی در نظر بگیرند که واقعاً بتواند با توجه به تجارب دوازده سال گذشته کشتی طوفان زدهٔ ملت را با سلامت از دریای پرتلاطم حوادث، مداخلات خارجی و نابسامانیهای داخلی عبور دهد، بناءً بمصداق اصطلاح سیلاب برداشته به هر خس و خاشاک دست میناندازد از ناچاری به تیمی امید بست که با احترام به شخصیت شان از ناحیهٔ وجاهت ملی در ضعیفترین نقطه قرار دارد. عده یی از دوستانی هم که فکر کردند این تیم از حمایت ارگ عبدالرحمن خانی بهره‌مند است. راه خود را و همفکران و همقطاران خود راگذاشته دست بدامن همین تیم زدند؛ ولی وای از روزی که این تیم بازنده اعلان شود که باور دارم در صورت اجرای انتخابات شفاف چنین خواهد شد.

روزنامهٔ چراغ در شمارهٔ دیروزی خود مؤرخ ۱۳۹۳/۱/۴ به ارتباط همین تیم نوشت که کمیسیون مستقل انتخابات به ارتباط کمپاین همین نامزد به رئیس جمهور شکایت میکند. روزنامه می نگارد در جلسه یی که دو سه روز قبل در یکی از ولایات جنوبی به ارتباط کمپاین همین نامزد تدویر یافته بود مامورین ارشد ولایتی بر سر ستیج دیده میشدند. هکذا روزنامه می افزاید که حتی متعلمین مکتب به این بهانه به جلسهٔ کمپاین فراخوانده شده بودند که گویا مراسم آغاز سال جدید تعلیمی است. روزنامه می نویسد که نورمحمد نور سخنگوی کمیسیون انتخابات در یک مصاحبه با رادیو آزادی شکایت کرده است که وسایل دولتی ولایت مذکور به نفع همین نامزد به کار گرفته شده است. بقول روزنامه این در حالی است که رئیس جمهور در روز افتتاح سال چهارم تقنینی شورای ملی از تمام حلقات داخلی و خارجی خواست که در انتخابات مداخله نکنند.

خبرهای واصله از کندهار نیز حاکی از آن است که مردم بزور به جلسهٔ انتخاباتی همین تیم آورده شده بودند.

البته این که چه کسی علاقه مند کدام نامزد است این حق مدنی هر تبعهٔ واجد شرایط است و حق دارد به او رأی بدهد؛ ولی اینکه از امکانات دولت به نفع یک کاندید مشخص کار گرفته شود جای سوال دارد در حالی که دولت تا بحال درین رابطه از خود هیچ جدیت بخرج نداده است و این موقف دولت این شکوک را تقویت میکند که از کاندید مشخص حمایت می کند، گرچه اکنون گپ از شک به یقین رسیده است و دلایل بسیاری وجود دارد که ارگ از کدام کاندید حمایت خواهد کرد که درین رابطه دلایل بسیار است و بنده در نوشته های قبلی خود به آن اشاراتی داشته ام. و اینکه رئیس جمهور دیگران را از مداخله در انتخابات برحذر میدارد حرفی است که نمیشود به آن دل بست، اگر دولت دولت است و اختیارات و وسایل دولتی را در اختیار دارد بالاخره ما هم افراد همین ملت هستیم و چشم و گوش داریم؛ می بینیم و می شنویم که در کشور چه میگذرد.

به هر حال ما به یک انتخابات شفاف، عادلانه و بیطرفانه نیاز داریم؛ زیرا درغیر آن هرگاه دولتی در نتیجهٔ یک انتخابات پر از تقلب بمیان آید اولاً مشروعیت آن مورد سوال خواهد بود و مشروعیت آن پذیرفته نخواهد شد.

ثانیاً ملت با چنین دولتی همکار نخواهد بود.

ضرب المثلی داریم: بزک بزک نه بمیر که جو لغمان میرسد. دولت موجوده نتوانست در دوازده سال گذشته با چالشهای موجود چه داخلی و چه هم خارجی دست و پنجه نرم کند، فقط کلوخ را در آب گذاشت و بر سر آن گذشت و بیشتر به مصلحتها رو آورد تا واقعیتها، البته می پذیریم که دولت بعد از کنفرانس اول بن از صفر آغاز کرد؛ ولی ایجاب میکرد با گذشت هر ماه و هر سال در اجراآت آن جدیت بمیان آید و وضع کشور رو به بهبود میگذاشت؛ ولی انتقاداتی که موجود بود بحال خود باقی ماند، نه از لعنت فساد اداری نجات یافتیم، نه از لعنت مواد مخدر، نه کدام پروژهٔ اساسی در کشور تطبیق شد، نه قانونیت جای مصلحتها را گرفت و نه حاکمیت دولت به اطراف و اکناف مملکت راه یافت؛ بلکه امنیت با گذشت هر روز بدتر شده رفت، فساد قوت بیشتر یافت، ساحهٔ کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر دست یافت، روابط با گذشت هر روز بر گرده ضوابط سوار شد، از عدالت اجتماعی که اصلاً خبری نیست، دامنهٔ اختطاف آنقدر وسعت و قوت یافت که به قول قوماندان امنیهٔ کابل یک اختطافگر حین گرفتاری اش سه میلیون دالر را در بدل رهایی خود به او پیشنهاد میکند و کسانی که در گرفتاری او همت کردند بشمول قوماندان امنیه تهدید میشوند، پس این چه وضعیتی است که ما داریم.

افغانستان بدون شک به یک حکومت نیرومند، با جرأت و قاطع نیاز دارد که دیگر با این مصلحتهای زهرآلود خداحافظی کند، مصالح کشور را در دامن استفاده جویان نیندازد. چرا وجود دولت نیاز هر جامعه است؟ این نیازی است که قبل از همه دین مقدس اسلام بر آن صحه گذاشته است. پیامبران بزرگوار علیهم السلام و بیشتر از همه پیامبر بزرگوار اسلام (صلی الله علیه وسلم) دست به تشکیل دولت زده است و بقول استاد سید قطب شهید اسلام برای همین آمده است تا حکومت کند. پس دولت یا حکومت باید جوابگوی نیازمندیهای جامعه باشد. بدون شک یک حکومت ضعیف هرگز جوابگوی نیازمندیهای جامعه شده نمیتواندو این یک حکم عام است. ما در دوازده سال گذشته هم بخاطری شاهد جوابگویی نیازمندیهای ملت از سوی دولت نبودیم که یک دولت نیرومند و جوابگو نداشتیم. بناءً اکنون نیاز وجود یک دولت نیرومند و جوابگو بیش از هر وقت دیگر محسوس است. اگر ارگ سعی کند در نتیجهٔ مداخلات و تقلب یک دولت ضعیفتر را جانشین دولت کنونی کند، درست است که منافع ارگ نشینان امروزی تأمین خواهد شد؛ در عمر دولت آینده از اجراآت گذشته پرسیده نخواهد شد؛ ولی با ملت یک جفای بزرگ خواهد بود و ملت هم بدون شک همکار چنین دولتی نخواهد بود، زیرا آن جو لغمانی که به آن اشاره کردیم نخواهد رسید.

پس در صورتی که دولت ضعیف باشد و ملت هم از همکاری با آن دل برداشته شود و چالشها هم با گذشت هر روز بیشتر و قویتر شود، سرنوشت کشور و این ملت درد دیده و رنجیدهٔ ما چه خواهد شد؟ با کمال تأسف آنچه قابل درک است، افغانستان یکبار دیگر در محراق یک جنگ سرد قرار خواهد گرفت چنانچه وضعیت اخیر اکراین و موقفگیریهای غرب و روسیه درین رابطه حکایت از آغاز یک جنگ سرد دیگر دارد، پس در چنین حالت ما نیاز به دولتی داریم که از حمایت مردمی بهره مند بوده، توان آن را داشته باشد که نگذارد افغانستان لگد مال سم ستوران شرق و غرب شود.

پس ارگ نشینان باید بدانند که نه تقلب در انتخابات پذیرفتنی است و نه دولتی که در نتیجهٔ این تقلبات بمیان آید و مسؤولیت عواقب تقلب هم بر دوش دولت کنونی خواهد بود.

عبیدالله صافی

د هېواد پرمختگ سالم قیادت ته اړتیا لري

د هر هېواد د پرمختگ راز په عدالت، انصاف، تعلیم او هر اړخیز خیرښیگڼې او سالم قیادت کې دی، تر څو پورې چې د هېواد زعامت او مشرتابه صالح، مهربان، زړه سواندی، عادل، پرهیزگار، سوله دوست، زیرک، وطن پال او بشردوست شخص په لاس کې نه وي لویدلې هېوادوال د ښې ورځې مخ نشي لیدلې.

تراوسه پورې چې افغانستان له کومو ستونزو او پریشانیو سره لاس او گریوان دی، ددې ستر لامل د یو مناسب زعامت نه شتون دی، که موږ د تاریخ په اوږدو کې د خپلو تېرو چارواکو حکومت والي او کړنو ته وگورو؛ نو ضرور دې نتیجې ته رسېږو چې زموږ چارواکو صرف د خپلو ځانو او کورنیو غم خوړلی نه د خپل ولس، هغوی کله هم خپلو مسؤولیتونو ته نه دي متوجه شوي او دهغې فریضې د ترسره کولو زحمت یې نه دی ایستلې چې قانون ور په غاړه کړی دی.

د هېواد زعیم د ټولو هېوادوالو د پلار مثال لري لکه څنگه چې پلار د خپلو ټولو اولادو یو ډول خیال ساتي او د ټولو د خیر ښیگڼې لپاره کار کوي همداسې د هېواد زعیم هم په سلو کې سل مسؤولیت لري چې د ټولو هېوادوالو ستونزو ته په یوه سترگه وگوري، د ټولو د حقوقو پاسبان واوسي، د هر چا له درد او تکلیفه خبر شي او ټولو ته یو ډول وخت مساعد کړي تر څو هر څوک په اسانې سره خپل حقوق ترلاسه او د امن په فضا کې ژوند ترسره کړي. له بده مرغه تراوسه په افغانستان کې ولس ته دا واک او اختیار نه دی ورکول شوی چې د خپلو ازادو رایو له لارې د خپلې خوښې زعیم وټاکي. پخوا شاهي نظام او ورپسې نورو کودتایي نظامونو پر ولس په زوره حکومت کاوه؛ خو د تېرو دیارلسو کلو راهیسې چې د امریکا د دیموکراسي لوی امام تر مشرۍ لاندې په افغانستان کې د دیموکراسي او ولسواکي کوم نه ستړي کېدونکي شعارونه ورکول کېږي بیا هم د دیموکراسي د گرمو شعارونو تر شا یو ډول دیکتاتوري نظام حاکم دی، دلته ولس محکوم او حکومت بادار دی. ځانو ته جنت او ولس ته یې دوزخ جوړ کړی دی، دهغوی او کورنیو پنځه واړه گوتې په غوړیو کې دي، له قانوني نیونې نه آزاد ژوند تیروي او هر څه چې کوي ورته روا دي.

په شاهي نظامونو کې دومره دیکتاتوري نه لیدل کېږي څومره چې د افغانستان په دیموکراسي کې شته، دلته کارغان په بازانو او ناپوهان په پوهانو باداري چلوي. دا ټول کارونه ځلوېښت کلن تجربه کار مامور پرمخ وړي، عرایض او احکام همغه لیکي؛ مگر امتیازات یې د حکومتي ټیم رئیس صاحب په جیبونو کې اچوي، نوکران چاکران هم همغوی ته ولاړ دي او موټرې هم اوس چې د ولسواکي تر عنوان لاندې په افغانستان کې د ټاکنو کمپاین پرمخ وړل کېږي حکومتي چارواکی ددې پرځای چې اولس خپلې خوښې ته پرېږدي لگیا دي په تمامه معنا د ولس د گمراه کولو کوښښ کوي، چاته په حکومت کې د لویې څوکۍ د ورکولو تمه ورکوي او چاته هم نغدې مرستې او تحفې. د دوی د اقتدار شوق او تنده د حکومت په ۱۳ کلو کې نه ده پوره شوې اوس هم غواړي چې له هرې لارې وي د خپل اقتدار لړۍ وغزوي او د ژوند تر اخرنیو سلگیو پورې خپل باداري پرمخ بوځي. که موږ د چارواکو ۱۳ کلن حکومت او اقتدار ته ځیر شو؛ نو په اسانۍ سره به ترلاسه کړو چې په هېواد کې د دیموکراسي تر شعار لاندې بدترین شاهي ډوله دیکتاتوري نظام پر موږ تپل شوی او اوس هم کوښښ کوي چې د ټولټاکنو تر درواغجن شعار لاندې خپله دیکتاتوري برقرار وساتي؛ ځکه خو د شپې ورځې لگیا دي پریمانه مصارف کوي او د ډول ډول لالچونو او رشوت ورکولو له لارې د خلکو د رایو د ترلاسه کولو ناروا هلې ځلې کوي، ددې لپاره چې د افغانستان زوریدلې او محروم ولس د دیموکراسي د شعارونو تر عنوان لاندې راغلیو دیکتاتورانو څخه چې اصلاً زموږ د ولس په مادي او معنوي شتمنیو گېډه اچولې او زموږ ټول روا حقوق یې تر پښو لاندې کړي خلاصون ترلاسه کړي او یو ځل بیا دهغوی د ظلمونو لاقانونیت، فساد، رشوت، درغلۍ او نورو ډول ډول مکاریو په ژرنده کې دل نه شي؛ نو د ورې شپاړسمه ټولټاکنې د افغانستان د مظلوم ولس لپاره تر ټولو لوی غنیمت دی. راځئ په دې حساسو شرایطو کې د غفلت له درانه خوبه بیدار شوو او هغه کاندیدان چې د ولسمشر کرزی په سلا مشوره ولاړ دي او یا هم د اسلام د دښمنانو په ملاتړ په افغانستان کې د بې دریغو پیسو په لگښتونو او د درواغو وعدو په ورکولو یو ځل بیا پر افغانانو د دیکتاتوري نظام د پرمخ وړلو تابیه کړې په تمامه معنا وپیژنو او هغوی ته د رأیو په ورکولو خپل سرنوشت دهغوی په لاسو کې ورنکړو؛ بلکې هغه چاته رأی ورکړو چې د افغانستان د استقلال په جهاد کې یې خپل ټول ژوند وقف کړی، تودی سړی یې له خپل ولس سره یوځای گاللي دي او د ولس له غمونو او دردونو څخه خبر دی، نه داسې چاته چې د قربانۍ او سرښندنو پر وخت د امریکا، اروپا او روسیه په پارکونو او ډانس کلپونو کې مزې اخستلې او اوس د لکونو مجاهدینو د قربانیو په بیه ازاد شوی هېواد ته د اقتدار د مزو د لوټلو او باداری قایمولو لپاره په مفتو کې افغانستان ته راغلي چې د خپل هدف له ترلاسه کولو وروسته د ښکاري باز په څېر بیرته خپلو اصلي ځالو ته لاړ شي او هلته د افغانانو پر غوښو د جشن خوښي ونمانځي؛ نو ځکه موږ د افغانستان مسلمان او متعهد ولس مسؤول او مکلف یو چې د ورې په شپاړسمه ټولټاکنو کې خپل هېواد ته داسې یو مناسب زعیم وټاکو چې هغه په ټولو حالاتو کې له موږ سره یوځای ولاړ وي او پر موږ د باداری د چلولو پرځای د خپل ولس خدمت وکړي، یوازې همداسې زعامت کولې شي چې زموږ ستونزې حل او د یو پیاوړی او مستحکم افغانستان ارمانونه مو ترسره کړي.

نه ښايي د مشرانو د سهوې قرباني شو

نصرالله

زه په سلو کې سل باوري یم چې زما په څېر هغه لکونه مجاهدین چې د روسي یرغلگرو ځواکونو په خلاف د جهاد په گرمو سنگرونو کې جنگیدلي او د لکونو شهیدانو پر وینو یې خپل استقلال ژوندی ساتلې پخپل گران هېواد کې د خپلو قربانیو ثمره ترلاسه کول غواړي.

موږ وینو چې د ورې په شپاړسمه په هېواد کې ولسمشریزې ټاکنې ترسره کېږي او هېوادوال د خپلو رأیو په نتیجه کې خپل راتلونکی ولسمشر ټاکي، د ټاکنو په دغو سیالیو کې هغه اشخاص هم ولاړ دي چې نه د جهاد په وخت کې چېرته د ټوپک ماشه کش کړی او نه هم په فرهنگي ډگر کې د جهاد او مجاهدینو په گټه دوه کرښې لیکلي؛ بلکې په غربي نړۍ کې د خپلې خوښې ژوند یې تېر کړی دی. څرگنده خبره ده چې له دغو اشخاصو نه د شهیدانو د ارمانونو د تحقق او د مجاهدینو د جهاد د ارزښتونو د پالنې تمه کول له لیونتوب پرته بل څه نشي کیدلای، که څه هم دوی پخپلو بیانیو او خبرو کې د جهاد د ارزښتونو ژمنې کوي خو د پردې شاته دوی نورې برنامې لري چې کله هم د مجاهدینو له ارمانونو سره اړخ نه لگوي.

پکار خو دا وچې د دوی په مقابل کې د مجاهدینو مشرانو په یو اتفاق یو نوماند ودرولی وای او ټولو په گډه دهغه ملاتړ کړی وای؛ خو ډېر افسوس چې داسې ونه شول، او هر چا جلا جلا لاره ونیوله په حقیقت کې دا د افغانستان د مجاهدینو او د لکونو شهیدانو د وارثینو لپاره ډېر غمونکی او دردوونکی ده، هغوی چې پخپلو په دې کړنو د جهاد ارزښتونو او شهیدانو ارمانونو ته د تاوان رسولو کومه سهوه کړې هېڅکله هم د هېرولو نه ده؛ خو په هر حال هغوی چې هر څه کړي خپل کار او خپل مسؤولیت یې هغوی پوه شوه او کار یې موږ مجاهد ملت باید په دې واقعیت ځان پوه کړو چې په دې برخلیک ټاکونکی ټاکنو کې زموږ د مجاهد ولس رول تر ټولو ستر دی، په دغو ټاکنو کې موږ نه بې واکه یو او نه بې اختیاره، نه د چا زر خرید غلامان یو او نه هم د چا جامد مقلدین چې هر لوری مو راکش کړي ورسره روان شو. الحمدلله زموږ رأیه زموږ په لاسو کې ده د استعمالولو واک یې له موږ سره دی، هغو جهادي مشرانو چې د اتفاق او یووالي له بهیر نه ځانونه جلا کړي او د بې اتفاقي لاره یې خپله کړې، هغوی اصلاً د مجاهدینو او شهیدانو ارمانونو ته نه دي کتلي، د کونډو، رنډو، یتیمانو او معلولینو ستونزو ته یې پاملرنه نه ده کړی؛ بلکې دهغوی له نوم نه د غلطې استفادې په پورته کولو سره د خپلو گټو د تأمینولو کوښښ یې کړی دی، نه ښايي زموږ میلیونو مجاهدین او د لکونو شهیدانو وارثین دهغوی په جذباتي خبرو تېر وځي او له هغوی سره د مرستې په ترڅ کې د خپلو قیمتي رأیو ارزښت له لاسه ورکړي.

الله تعالی موږ ته هم عقل او بصیرت راکړی دی او د همدغه بصیرت له مخې مکلف یو چې د خپلې راتلونکی او سرنوشت په اړه تصمیم ونیسو او د خپلې کامیابۍ لاره پخپله پیدا کړو.

په اوسنیو ټاکنو کې چې ځینو مشرانو او نورو مطرحو څېرو د خپلو شخصي گټو په خاطر زموږ د رأیو د خرابولو او زموږ د یقیني بریو د مخنیوی په خاطر کومه لوبه په کار اچولې له هغه نه په بریالي توگه د وتلو او خپلو ارمانونو ته د رسېدو لپاره زموږ پر وړاندې یواځنې مؤثره او قانوني لاره داده چې ټول په یو اتفاق د دریو لویو هېواد شمولو اسلامي گوندونو متفقه نوماند او د جمعیت اسلامي مهم غړی ښاغلي عبدالله عبدالله ته رأی ورکړو او د ملت د رایو په غوڅ اکثریت د افغانستان د راتلونکی ولسمشر په توگه وټاکو تر څو تر یوې کچې زموږ د مجاهد ملت د جهاد ارزښتونه محفوظ او د شهیدانو ارمانونه تحقق ومومي، که داسې ونکړو او د یو مشر پرځای په گڼو مشرانو وویشل شو؛ نو کله به هم خپلو ارمانونو ته ونه رسېږو او زموږ راتلونکی نسل به زموږ د غلطیو تریخ غړپ تیروي.

حمایت پرشکوه مردم ولایت ...

۸

مرکز ترانزیتی جهان مسمی خواهد کرد. شاهراه ابریشم، از ولسوالی بهارک بدخشان آغاز گردیده و با عبور از ولسوالی های وردوج و اشکاشم به چین وصل میگردد.

این نامزد ریاست جمهوری، رشد و توانمندی زنان، فراهم آوری زمینهٔ کار برای افراد بیکار، ایجاد کارخانه ها وتطبیق پروژه های زیربنایی را از اولویت های برنامه های خود برشمرد.

انجنیر محمد خان معاون اول داکتر عبدالله، درین گردهمایی ضمن آنکه خواهان اشتراک مردم در انتخابات شد، گفت که درصورت پیروزی تیم اصلاحات و همگرایی که وارثین دوره جهاد ومقاومت بوده، از حقوق معلولین، معیوبین و ورثه شهدا حمایت خواهند کرد.

صلاح الدین ربانی رهبر جمعیت اسلامی ورئیس شورای عالی صلح، ضمن اعلام حمایت ازنامزدی داکتر عبدالله گفت که طی دوازده سال گذشته، میلیاردها دالر به کشور سرازیرشد؛ اما برضدفساد اداری مبارزه قاطعانه صورت نگرفت و ازهمینرو افغانستان، به مثابه فاسد ترین کشورهای جهان محسوب میشود.

وی علاوه کرد که درصورت پیروزی تیم داکتر عبدالله، پدیده فساد را بصورت کلی ازکشورمحو ونابود خواهندساخت.

دیروز گردهمایی با شرکت هزارها تن در شهر شبرغان مرکز جوزجان نیز به حمایت از داکتر عبدالله برگزار شد.

عبدالوهاب مسوول دفتر ولایتی وی گفت که برنامه های کاری و جامع این نامزد، مردم را واداشته که از تیم اصلاحات و همگرایی حمایت کنند.

باز محمد یکتن از شرکت کنندگان گفت که داکتر عبدالله، تابعیت خارجی ندارد و در روزهای دشوار با مردم یکجا بوده است.

خیرالله شرکت کنندهٔ دیگر گفت: "داکتر عبدالله دوست دوران جهاد وی بوده و میتواند کشور را از حالت کنونی بیرون نماید."

همچنان در اجتماعی که با شرکت هزارها تن به حمایت ازنامزدی داکتر عبدالله عبدالله در شهر زرنج مرکز نیمروز برگزار شد، از حکومت انتقاد شد که به مجاهدین نقش نداده است.

سخی احمد یکی از متنفذین نیمروز گفت که داکتر عبدالله، سابقهٔ جهادی دارد و میتواند که با به دست گرفتن زعامت کشور، نقش مجاهدین را در حکومت آینده تضمین نماید.

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
شهادت اونیزه

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل
Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

ولسي جرګې پر سرینا د برید...

کابل سرینا هوټل حمله وغندله او له امنیتي چارواکو یې په دې برخه کې د توضیحاتو غوښتنه وکړه.

د دوشنبې په ورځ د دې جرګې لومړي مرستیال صدیق احمد عثماني چې د جرګې مشرۍ یې کوله وویل، چې د شنبې په ورځ به امنیتي چارواکي د خلکو استازو ته په دې اړه معلومات ورکړي:

"د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د وسله والو ورستی حملې او په ځانګړې توګه د سرینا په هوټل باندې انتحاري حمله موږ په کلکه تکو غندو، له امنیتي چارواکو غوښتنه کېږي چې د شنبې په ورځ دې د ولسي جرګې غونډې ته حاضرشي او په دې اړه دخلکو استازو ته معلومات ورکړي."

ښاغلي عثماني له ولسمشرحامد کرزي څخه وغوښتل، وروستیو حملو او د هېواد امنیتي وضعیت ته په کتو سره د وسله والو طالبانو پر وړاندې نرم سیاست پرېږدي او له جدیت څخه کار واخلي.

د نوي کال په لومړي شپه د کابل په سرینا هوټل باندې څلورو وسله والو کسانو حمله وکړه چې د څلورو بهرنیانو په ګډون نهه تنه په کې ووژل شول.

په وژل شویو کسانو کې د سردار احمد په نوم خبریال، د هغه مېرمن او دوه ماشومان هم شامل وو.

د یکشنبې په ورځ د افغانستان د ملي امنیت شورا هم په یوې اعلامیې کې وویل، چې په دې حملې کې د بهرنیو استخباراتي کړیو لاس دی.

په اعلامیه کې د کوم هېواد نوم نه دی اخیستل شوی، خو د یوه پاکستاني ډیپلومات یادونه شوې چې څه وخت مخکې یې هڅه کوله په غیرقانوني توګه د سرینا هوټل د دهلیزونو فلم واخلي.

د یکشنبې په ورځ د ولسي جرګې څینو غړو پوښتنه وکړه، چې له دومره جدي تدابیرو سره سره بیا هم په سرینا هوټل ولې حمله وشوه.

د جرګې یوې غړې فوزیې کوفي وویل:

"دغه عملیات پلان شوي، دا چې موږ وکیلانو یو د ننوتلو کارت هم لرو او زیاتره افغانان خپل وکیلان هم پېژني، موږ چې کله د سرینا هوټل ته ننوځو، په ډول ډول ماشینونو زموږ موټر چک کېږي، څه ډول ممکن دی چې یوه تفنګچه یا یوه فلزي وسیله د سرینا هوټل ننه ایستل شي، د افغانستان کشفي او استخباراتي دستګاوې چېرته وې؟"

خو بل خوا د افغانستان حکومتي چارواکي وایي، چې د سرینا هوټل د امنیت مسوولیت د شیلډ په نوم د یوې خصوصي امنیتي کمپنی په لاس کې دی.

د ملي امنیت شورا د کورنیو چارو وزارت ته دنده ورکړې چې د دې کمپنی له مسوولینو تحقیق وکړي.

د کابل پولیسو د حملې په سبا د سرینا هوټل دوه ساتوونکي په وظیفې کې د غفلت په تور ونیول.

په کمپاینونو کې د دولتي ...

د رایې ورکونې ټول مرکزونه چې امنیت یې ټینګ نه شي، څارونکي شتون ونه لري او خلک د ناامنیو له امله ورته لاسرسی ونه لري، نو په دغو ځایونو کې به ټاکنې ترسره نه شي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشاء مشر زیاته کړه، چې په تېرو ټاکنو کې په هغو ځایونو کې درغلی وشوې، چې امنیت او څارونکو په کې شتون نه درلود.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون له دې وړاندې ویلي و، چې د رایې ورکونې د شاوخوا اووه زرو مرکزونو له ډلې به ۳۹۰ مرکزونه، د امنیتي ستونزو له امله د ټاکنو په ورځ تړلي وي.

امرخېل، نن "د ټاکنو په لړۍ کې د علماوو او مخورو رول او رسالت" تر عنوان لاندې په یوه سیمینار کې زیاته کړه، چې د ټاکنو کمیسیون له تېرو تجربو څخه په ګټې اخیستنې له درغلیو څخه د مخنیوي لپاره اړین تدابیر نیولي دي.

هغه زیاته کړه: "دا خل هڅه کېږي، چې ټاکنیز توکي داسې ځای ته ولېږدول شي، چې د خلکو ډېر نفوس په کې واوسي، امنیت وي او څارونکي شتون ولري او خلک هم په رښتیني ډول په ټاکنو کې ګډون وکړی شي."

نوموړي زیاته کړه، له مدني ټولنې او د ټاکنو له کاندیدانو سره بشپړه همغږي لري، ترڅو هغوی خپل څارونکي د رایې ورکونې مرکزونو ته ولېږي او د کمیسیون کارکوونکو ته د دې موقع ورنکړي، چې د کوم کاندید په ګټه او یا هم زیان وکړي او څارونکي باید زورواکو او حکومتي کسانو ته د دې اجازه ورنکړي، ترڅو د کوم کاندید پر ګټې او یا زیان کار وکړي.

امرخېل، د ولسمشری او ولایتي شوراګانو ټاکنو باندې پر څار ټینګار وکړي او وېې ویل، چې سالم څار د ټاکنو پنځوس سلنه روڼوالی تضمینولی شي.

هغه له حکومتي چارواکو وغوښتل، چې په ټاکنو کې د حکومتي چارواکو د نه لاسوهنې په اړه د ولسمشر فرمان په پام کې ونیسي.

امرخېل وویل: "موږ په دې وروستیو کې وینو، چې ځینې حکومتي او دولتي کسان په خپلو رسمي وختونو کې، په کمپاینونو کې د کاندیدانو په ګټه کار کوي، دا هغه څه دي، چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون یې په اړه سخته اندېښنه لري."

د ټاکنو کمیسیون د دارالانشاء مشر هیله څرګنده کړه، چې حکومت او ولسمشر دغې موضوع ته ډېره پاملرنه وکړي، ترڅو دولتي امکانات د کوم کاندید په ګټه او یا زیان ونه کارول شي.

هغه له کاندیدانو هم وغوښتل، د دې پر ځای چې عامه ذهنونه مغشوش کړي او یا هم منفي کمپاینونه وکړي، پر ځای دې په پراخه ډول کمپاینونه وکړي او خپل پروګرامونه دې خلکو ته شرحه کړي.

امرخېل، د کوم دولتي چارواکي نوم په ډاګه نه کړ، چې په کمپاینونو کې یې ګډون کړی وي.

خو پرون په کابل کې د اشرف غني احمدزي ټاکنیز ټیم په خبري ناسته کې وویل، چې د پکتیا د والي جمعه خان همدرد په ګډون ځینې دولتي چارواکي، له دولتي څوکیو څخه په ګټې اخیستنې د ولسمشرۍ کاندید زلمي رسول په ګټه کار کوي.

جشن جهانی نوروز در ...

"قصر آمده است، قالین ها فرش شده است، کوچ و فرنیچر آن را ترتیب و تنظیم کردیم، بالاتر از چهار کیلومتر سرک سنگ فرش شده هم چنان دیوار های استنادی اعمار شده اند.

یک قصر دیگر هم است در ساحه پایینتر از قصر بزرگ، برق شهری تمدید یافته است.

ما آماده پذیرایی مهمان های خود هستیم."

به گفته آقای قانع بیش از پانزده میلیون دالر در اجرای پروژه بازسازی تپه پغمان مصرف شده است.

گل آغا احمدی رییس دارالانشای کمیسیون دولتی برگزاری جشن جهانی نوروز حدود دو هفته پیش به رادیو آزادی گفته بود که آماده گی های لازم در زمینه راه اندازی این جشن به تاریخ هفتم حمل در منطقه تفریحی پغمان روی دست گرفته شده اند.

اما آقای احمدی حالا چیزی دیگری می گوید:

"تپه پغمان آماده نبود، هر کسی که از این محل دیدن کرد گفت که آماده نیست و کار های زیادی باقی مانده که انجام شود.

سرک که از شهر کابل به طرف پغمان منتهی می شود به سبب باران ها کار های ما به سکتگی رو به رو شد."

تصمیم در خصوص تغییر محل برگزاری جشن جهانی نوروز در افغانستان پس از آن اتخاذ می شود که کابل شب نوروز شاهد یک حمله مرگبار بود.

شماری از کارشناسان افغان هم با توجه به تحرکات مخالفین مسلح می گویند که تهدید های امنیتی سبب شده اند که این جشن در پغمان برگزار نشود.

احمد سعیدی یکی از این کارشناسان:

"دولت افغانستان به این فکر بود که روسای جمهور ایران و تاجکستان و کسانی دیگر اشتراک کنند روی مشکلات و تشویش های امنیتی که وجود دارد قبلاً یک مقدار سلاح از کوه های پغمان به دست آمد دولت مطمین نیست که بتواند امنیت سرتاسری این محفل را تامین کند و حادثه رخ ندهد روی این اصل نمی خواهد که در تپه پغمان برگزار شود."

نهاد های امنیتی افغانستان تا اکنون در این مورد تبصره نکرده اند.

رییس جمهور کرزی در جشن جهانی نوروز در سال ۱۳۹۱ شمسی در تاجکستان گفت که کابل در سال ۱۳۹۳ میزبان این جشن خواهد بود.

حکومت افغانستان سال گذشته برنامه آماده سازی منطقه تفریحی پغمان را به عنوان محل برگزاری جشن جهانی نوروز روی دست گرفت.

حامد کرزی در ماه عقرب پارسال از امور بازسازی در این محل دیدن کرد.

جشن جهانی نوروز نخستین بار در سال های ۱۳۸۹ و ۱۳۹۰ هجری شمسی در ایران سپس در تاجکستان و ترکمنستان برگزار شد.

قرار است مقام های بلند پایه ایران، تاجکستان، ترکمنستان و چند کشور دیگر منطقه جهت اشتراک در جشن امسال به کابل بیایند.

مصري محکمې ۵۲۹ ...

په دې قضیه کې د نیول شویو تورنو شمېر ۱۱۵ کسانو ته رسېږي.

په دغو تورنو کې د المنیا ځینې سیمه ییز مخکني چارواکي او د ولسي جرګې او د اخوان المسلمین ګوند ځینې غړي هم دي.

ویل کېږي، پر تورنو د المنیا د مطای پولیسو د مرکز د یوه مامور د وژلو تور هم دی.

د مصر المنیا ولایت کې د تاوتریخوالي پېښې وروسته تر هغه پیل شوې، چې د قاهرې او الجیزې پاڅون او د رابعه عدویه اعتصاب په زور رنګ شو.

د نیول شویو له ډلې پر ځینو تورنو تور دی، چې پر کلیساوو او موزیم یې بریدونه کړي او زیاتره لرغوني اثار یې لوټ کړي دي.

د محکمې پلاوي ته به ۱۷۰ تورن حاضر شي، خو نور تورن تري تم شوي دي.

تورنو ته د استیناف حق ورکړل شوی دی.

دغه کسان د محمد مرسي د هغو ۱۲۰۰ کسانو له ډلې دي چې مصر کې یې محاکمه دوام لري.

په تېر جولای میاشت کې د محمد مرسي تر لیرې کېدا وروسته، مصري چارواکو له اخوان المسلمین ګوند او ملاتړو سره خپل چلند سخت کړ.

د دغې ډلې زرګونه کسان ونیول شول او سلګونه نور له امنیتي کسانو او پولیسو سره په نښتو کې ووژل شول.